# لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ؛ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ». «زما په مدحه او توصيف کې تاسو له حد څخه مه اوړئ، لکه څرنګه چې نصارا د عيسى زوى د مريمې په مدحه او توصيف کې له حده اوړيدلي وو؛ بېشکه چې زه د هغه بنده يم، نو تاسو ووایئ: د الله بنده او رسول

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې: «لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ؛ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ». «زما په مدحه او توصيف کې تاسو له حد څخه مه اوړئ، لکه څرنګه چې نصارا د عيسى زوى د مريمې په مدحه او توصيف کې له حده اوړيدلي وو؛ بېشکه چې زه د هغه بنده يم، نو تاسو ووایئ: د الله بنده او رسول».

[صحيح] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په مدحه او توصيف بيانولو کې له مبالغې او شرعي حدودو له اوړېدلو څخه منع کړيده، چې ځوک يې د الله تعالى په صفتونو او يا ځانګړو افعالو سره ياد کړي، او يا دا چې - باور ولري - په غيبو پوهيږي، او يا دا چې له الله سره رابلل کيږي، لکه څرنګه چې نصاراوو د عيسى زوى د مريمې عليهما السلام په حق کې کړي وو. بيا يې واضحه کړه چې هغه د الله له بنده ګانو څخه يو بنده دى، او امر يې وکړ چې په اړه يې ووايو: د الله بنده او رسول دى.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3406